AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملكزى

۰۹ / ۱۰ / ۲۰۲۶

# بیا دې مازیګر که ، الله !

چـې مازیـګر پــرې ښــایسته کـېـږي
هغې جینی له مور منګی نه ورکوینه، الله
په ګودر ســرې لمبــې شــوې ـپورتــه
د چا د زړه په دنیــا اور ولــګېدنـــه، الله
ګــودر د پــیـغلــو جـــمــاعـت دی
امام یې نشته مخ په لمر ولاړې دینه، الله

په ولسي او فولکلوریک پښتني ادب کې، ګودر یوازې د منګو ډکولو ځای نه دی بلکې د کلیوال ژوند هنداره او د احساساتو، دودونو او ټولنیزو اړیکو ځلی کنډل کېږي. له ګودر سره د کلي د نجونو خندا ګاني، د ځوانانو پټ نظرونه او د ګرېډلو سپین ږیرو د ژوند کیسې غوټه دي. شاعران د پیغلو له قدمونو، د بنګړو له شرنګا او د سرو منګوټو له کتارونو څخه د نظمونو امیلونه جوړوي او هنرمندان یې پخپلو حنجرو کې زمزمه کوي. زموږ ګڼې ټپې، چاربېتې او سندرې په ګودرونو کې د پیغلو د نخرو او کرشمو انځورونه دي.
ګودر ته د ښکلا او مینې د لومړني تم ځای په سترګه کتل کېږي؛ ځکه دلته د زړونو خبرې په سترګګونو او اشارو کې کېږي. ګودر یوازې یو فزیکي ځای نه دی، بلکې روایت او کلتوري هویت دی. د ګودر له نوم سره د احساساتو خاموشي ژبې په خبرو راځي او په زړونو کې د شکراني شعور را ژوندۍ کېږي. د پخوا په څېر، ګودرونه اوس هم د الهامونو او پیغامونو سرچینې دي.
که څه هم په نني وخت کې د ژوند بڼه بدله شوې خو د ګودر ادبي ارزښت لا هم ژوندی او د شاعرانو په خیالونو او نغمو کې ستایل کېږي. موږ چې کله ګودر یادوو نو بې اختیاره د مازیګر زېړی لمر، زریني پلوشې او د عاشقانو خیالي تابلوګانې مو مخ ته کېږي. مازیګر د ورځې هغه مهال دی چې رڼا ورو ورو د تیارو غېږې ته ورځي، آسمان خپله لمن په سرو، نارنجي او ګلابي رنګونو سینګاروي او طبیعت د سکوت ژبه خپلوي. په همدې شیبو کې، زړونه د یادونو په اوږدو لارو ګرځي او ارواوې د ډاډ احساس کوي.
په مازیګر کې، خبرې رښتینې، غوږونه لک ځک او موسکاوې بې ریا وي. له تنورونو څخه نري نري لوګي پورته کېږي او سپرغۍ په ایرو بدلیږي. د چا لپاره د فراق نښه وي او د ځینو لپاره د وصال مورچل. دا هغه شیبه ده چې انسان د ورځې له شور ماشور وروسته، د ژوند په معنا فکر کوي او په خپل ورغوي کې د تقدیر کرښې لټوي. مازیګر، د حال په ژبه موږ ته پیغام راکوي چې: «هر پای یو پیل دی او هر مازیګر د سباني سهار سریزه ده».
له خپل پلرني ټاټوبي ډېر لیرې، اوس دلته زموږ هم مازیګر او لمر په غرغره دی. زه تک تنها د جهیل پر غاړه ولاړ یم، خو سترګې مې د خپل کلي خړو کوڅو، ړنګو دیوالونو، د لیموګانو باغچو، خاموشو ګودرونو او د سرګردانه منګوټو لورې ته کږې دي. که څه هم واټن بېخي اوږد دی، خو زړه مې بیا هم هماغلته اوسي. دواړه لاسونه د عرش مالک ته لپه کوم، د عذر لمن ورته غوړوم او د درویزې کچکول ورته نیسم چې:
خالقه ! زموږ په وطن کې هغه د خنداګانو ډک مازیګرونه بېرته راوله چې خلکو به په کې د مینې، امن او سکون ساه اخیستله؛ د ماشومانو خنداګانو به انګازې کولې او د ژوند هره شیبه به د امید په رڼا ښکلې وه. د کرکې، تعصب او نفاق د دې سرو لمبو پر ځای د مینې، وروروولۍ او پخلاینې شمعې بلې کړه. هغه قلمونه وچ او مشوانۍ ماتې کړه چې د دې یو موټي ولس پر برخلیک د بېلتون، دښمنۍ او تفرقې کرښې ورې کرښې کاږي.
کریمه ! زموږ د وطن پر غرونو، دښتو او درو د باروتو لوګي ختم او پر ځای یې د زیتون د څانګو، د سوکالۍ د شبنم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

او د سپینو کوترو د غومبر پریماني کړه. په ګودرونو، مازیګرونو او ماښامونو کې مو یوځل بیا د د اتڼونو ارزاني کړه.
وطن ته مو داسې سباوون راوله چې هر ماشوم په خندا راویښ شي، هره مور په ډاډه زړه ساه واخلي او هر مازیګر د امید او انسانیت رنګ ولري.
یه زما ادب پالو، مینه ګرکو او نیازبیو لوستونکو! راځئ دا ټپه په شریکه زمزمه کړو چې:
مازیګری دی ښېرې مه کړه
ته به د ناز ښېرې کوې رښتیا به شینه، الله



د لیکوال نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ